


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



مجيب الرحمن « خطيبي »

د نشرنيټه : 3 می 2026 میلادی

# مرګ بهتر

چې ته نه يې، شو مې زړه ډک له هرغم، مرګ بهتر
بې له يـــاده ستا جـانانه، په هـــر دم مـــرګ بهتر

دا نفس مې حجاب شوی، نه پرې وينم ستا قدم
که دا پرده شي راته کمه، هغه کم مـــرګ بهتر

د دنيا دا رنګ او بوی دی لکه خوب، لکه يو چم
له دې خوبه چې راويښ شم، بې له چم مرګ بهتر

ستا د مينې په اور وسوم، نه لـــرم يو دم ارام
چې دا اور راسره مل وي، په هر دم مرګ بهتر

که فنا کې ستا ديدار وي، دا مې لوی دی يو ارمان
چې فنا شي دا وجود مې، په هـــغه دم مرګ بهتر

مجيب وايي: که له نفسه شي آزاد دا تن په کم
د وصال په لاره تګ کـــې، هـــر قـــدم مرګ بهتر

***

مجيب الرحمن « خطيبی »

www.said-afghani.org - بازګشت به صفحه اصلی